PROPERTY OF ACKU

DAILY اراده

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپانه

۹۴۱

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

یولسم کال - دویمه دوره، ۹۴۱ مه گڼه، پر له پسې ۲۰۰۸ گڼه د ۱۳۸۹ ل ـ د لیندۍ ۲۸ مه - د یکشنبې ورځ، د ۱۴۳۲ هـ ق محرم الحرام ۱۳ مه ۲۰۱۰ د ډسمبر ۱۹ مه

ناټو ځواکونو دوه تنه ووژل

ناټو وایي چې له افغان ځواکونو سره یې په گډه په ننگرهار ولایت کې عملیات کړي، دوه تنه یې وژلي او یو طالب قوماندان یې نیولی، خو ځایي اوسېدونکي وایي چې دغه کسان عام وګړي دي. په کابل کې د یادو شویو ځواکونو د مطبوعاتي دفتر له خوا د لیندۍ پر ۲۷مه، په یوه خپره شوې خبرپاڼه کې ویل شوي، چې دغه عملیات ورځې د ننگرهار په بهسودو ولسوالۍ کې ترسره شوي دي. په خبرپاڼه کې زیاته شوې، چې دوی د کره استخباراتي معلوماتو په اساس، د بهسودو ولسوالۍ اړونده پر یوه کور عملیات ترسره کړل او د لاوډسپیکر په وسیله یې خلکو ته دوتلو امر وکړ. د سرچینې د معلوماتو له مخې، خلک له کوره ووتل او گډو ځواکونو یادشوی کور تالاشي کړ، چې دوه وسلوال کسان یې ولیدل، چې دوی ته یې ګوانس رامنځته کړی و.

د افغانستان د سولې اصلي کېلي له پاکستان سره ده



د جرمني خبري اژانس په یوه تحلیلي راپور کې وایي: په داسې حال کې چې د امریکا په مشرۍ نړیوال ایتلاف له افغانستان څخه د ۲۰۱۰ کال په جولای کې د ځواکونو په ایستلو تر پیل کولو مخکې په دې هېواد کې له وسلوالو مخالفانو سره د سولې د لرلید په باب اندېښمن دی، پاکستاني پالیسي جوړوونکي په افغانستان کې پر خپلو متحدانو د کنټرول او تسلط له پلوه دا امنیت احساس کوي.

دوی په احتیاط خو په ځیرکۍ، په وروستیو میاشتو کې په زغرده ویلي چې په افغانستان کې د سولې هره هڅه - که هغه د افغانستان د حکومت له لوري وي، یا واشنګټن یا نړیوالو کنفرانسونو له خوا - باید د دوی له لوري منظور شي، حتا د خبرو د پیلولو لپاره ابتدایي تماسونه یا هر هغه څه چې په افغانستان کې له سولې سره مرسته کوي.

د جرمني خبري اژانس وایي چې د فبروري په میاشت کې په کراچۍ ښار کې د طالبانو د حربي قومندان ملاعبدالغني برادر نیونې، او څو ورځې وروسته د طالبانو د صدارت د پخواني مرستیال مولوی عبدالکبیر نیونې وښودله چې پاکستان د خبرو اترو هره پروسه سبوتاژ یا تخریب کولای شي چې دا هېواد په کې شامل نه وي.

د دې پي اې اژانس د راپور له مخې د طالبانو دواړو نیول شویو مشرانود پاکستان تر تولو قدرتمنه استخباراتي اداره (آی ایس آی) په دې خاطر په قار کړې وه چې دوی په خپل سر او بې له دې چې د آی ایس آی مشوره واخلي، د ولسمشر حامد کرزي له حکومت سره یې تماس نیولی و.

۳مخ

د پېچلتیا پر پله روانه جګړه چېرته رسي؟

متل دی، چې وایي، جګړه جګړه زېروي. دا متل مې ځکه راوړ، چې د افغانستان حالات اوسمهال داسې یوه پراو ته داخلېږي، چې د سولې پر ځای په خلکو کې د جنګ، ویر، غم او درد هیلې راڅوندې کوي، ځکه څومره چې جګړه غځېږي، هومره ورسره دوبړي، وژنې، غمونو او دردونو کچه هم ورسره لوړېږي او څومره چې جګړه دوام مومي، هومره ورسره بدمرغي او ناارامي شدت پیدا کوي. له همدې سره په پرتله په افغانستان کې اوس همداسې یو حالت راغلی دی. د دې پر ځای چې په دې هېواد کې بېړې پولې او بېړې سرحده او ګونګې جګړې ته د پای ټکی کېښودل شي، دا جګړه نوره هم غځول کېږي او د هرې ورځې په تېرېدو سره نوی رنګ اخلي او شدت پیدا کوي. امریکا او ورسره نږدې خواخوږیو ناټو هېوادونو یې چې کله د تروریزم د له منځه وړلو او د طالبانو د امارت د رنګولو په پلمه پر دغه هېواد پوځي برید وکړ، نو هدف یې دا و، چې دې هېواد ته به سوله، سوکالي، ابادي او نېکمرغي راوړي، خو دوی د دې هرڅه خلاف څه دې هېواد ته ډالۍ کړل. د سولې پر ځای یې جنګ راوړ، د ابادۍ پر ځای یې ویرانې راوړې،

د سوکالۍ او نېکمرغۍ پر ځای یې بدمرغي راوړې او دا هېواد او ولس یې په داسې یوه لوی ناورین کې ښکېل کړ، چې تر یوې وتل یې ډېره سخته خبره ده. په همدې حال کې بهرني پوځونه، چې په ظاهر کې د سولې لارویان او د پرمختګ راوړونکي دي

۳مخ



انتخابات؛ زادګاه جنبش اعتراض ۲

ارمنستان مدت حضور نیروهای خود در افغانستان را تمدید کرد

پارلمان ارمنستان روز گذشته توافقنامهٔ بین المللی مبنی بر تمدید مدت حضور نیروهای حافظ صلح ارمنی در افغانستان و افزایش ترکیب آن را به تصویب رساند.

به گزارش ترند نیوز، قرارداد فرستادن نیروهای حافظ صلح ارمنی به افغانستان به صورت تبادل مکاتبات به تاریخ ۱۹ و ۲۰ اکتوبر سال ۲۰۰۹ امضاء شد. نیروهای نظامی ارمنی ماموریت خود را در افغانستان در ترکیب نیروهای بین المللی حفظ امنیت (ISAF) را از ابتدای سال ۲۰۱۰ انجام می دهد.

به گفتهٔ سیران اوهانیان، وزیر دفاع ارمنستان، مدت حضور نیروهای حافظ صلح ارمنستان در افغانستان بادرنظرداشت اهمیت مأموریت نیروهای حافظ صلح و موفقیت انجام این مأموریت از سوی قطعات ارمنستانی و تأثیر مثبت آن بر اعتبار بین المللی ارمنستان، ۱۲ ماه دیگر تمدید می شود.

همزمان با این، ارمنستان تعداد

ص۳

د اوباما د ستراتیژۍ پر وړاندې تر ګردو لوی ګوانښ!

په افغانستان کې د بارک اوباما د جګړې د ستراتیژۍ د بریالیتوب په وړاندې لوی ګوانښ د دې هېواد دختیځ او جنوب په سرحدي سیمو کې هغه پټې او مار پیچې لارې دي چې پرې په وسلو او اکمالاتو بار وسلوال له ګاونډي پاکستان څخه راوړي.



په هلمند کې چې د مارجې په ځبر ولسوالیو کې یې د بارک اوباما جنګي ستراتېژي د نمونې په توګه عملي شوې ده امریکایي پوځي قومندانان وایي دلته ډېر ښه ګوتې د تېر کال په پرتله اوس خوندي دي او د طالبانو فعالیت په کې کم شوی دی. خو د پاکستان سره د پولې ځخه

۳مخ

په افغانستان کې د ناټو پوځونو د تلفاتو شمېر ۶۹۹ تنو ته ورسېد

د ناټو په مشرۍ نړیوالو سوله ساتو ځواکونو ایساف دافغانستان په بهلا بهلو سیمو کې د خپلو دوو سرتېرو د وژل کېدو خبر ورکړ.

دغه خبر په کابل کې د ایساف ځواکونو مطبوعاتي دفتر له خوا د لیندۍ پر ۲۷مه، په یوه خپره شوې خبرپاڼه کې ورکړ شوی دی.

په خبرپاڼه کې زیاته شوې چې ددوی یو تن سرتېرې پرون سهار وخته دافغانستان په ختیځ کې د وسلوالو مخالفینو په یوه برید کې وژل شوی دی.

دا یساف په یوه بله خبرپاڼه کې ویل شوي چې یوه بل سرتېرې یې چې دافغانستان په سویل کې دیوې پېښې پر مهال ټپي شوی و، په روغتون کې ساه ورکړې ده.

سرچینې د وژل شویو سرتېرو تابعیت او د پېښو کره ځای نه دی په ګوته کړی، خو باید وویل چې په ختیځ کې د ایساف امریکایي او په شمال کې المانې سرتېرې مېشت دي.

د پڑواک د رپوټ له مخې، دغو

۳مخ

د لوی او بښونکي خدای ج په نامه

سر مقاله

نوی پارلمان او د حکومت دوه مخی سیاست؟!

د افغانستان د ولسي جرګې د ټاکنو ناندرۍ لا پای ته نه دي رسېدلي، خو په دې برخه کې وضعیت ورځ تر بلې ترینګلی کېږي، حکومت دواړو متعرضو ډلو ته د بېلابېلو ژمنو په ورکولو سره، هم ځان تېر باسي او هم نور. دا په داسې حال کې ده، چې تېره ورځ د ولسي جرګې زاړه استازي، د اعتراض په توګه د ولسي جرګې مخې ته راټول شوي وو او غوښتنه یې کوله، تر هغه مهاله، چې د ستړي محکمې او لویې څارنوالۍ له خوا د ولسي جرګې د پایلو ارزونه پای ته نه وي رسېدلې، د ولسي جرګې دروازې دې د دوی پر مخ پرانېستي وي.

زاړه وکیلان ادعا لري، چې تېرې ټولټاکنې له درغلیو او بې قانونیو ډکې وې، نو ځکه یې پایلې اعتبار نه لري او تر هغو چې د څارنوالۍ او ستړي محکمې له خوا په دې اړه پرېکړه نه وي شوې، باید زاړه وکیلان خپل کار ته دوام ورکړي. خو بریالي نوماندان بیا د ټاکنو د خپلواک کمېسیون د پرېکړې تر شاولاړ او دغه ټاکنې مشروع او کره او دویمه خبره په کې بې ځایه او بې وزنه بولي.

حکومت پرته له دې چې د وضعیت ترینګلتیا په پام کې ونیسي، په دې برخه کې کله بې تفاوته او کله هم دوه مخی دریځ لري، هغه په دې مانا چې هم زاړو وکیلانو ته چې د ټاکنو پایلې نامشروع بولي، ژمنې ورکوي او هم نویو ته شنه څراغونه لګوي. دولت له یوې خوا، د لویې څارنوالۍ او ستړي محکمې په وسیله، د ټاکنې پر پایلو څېړنه خپل مسوولیت بولي او ناکامو نوماندانو ته چې د اعتراض یو اړخ دی، ډاډ ورکوي، چې اړوند مراجع به په دې اړه غور وکړي او تر هغه چې د دغو مراجعو دارزونو او څېړنو پایلې نه وي معلومې شوې، نو نوی پارلمان به نه پرانیستل کېږي، خو له بلې خوا، بریالي نوماندانو هم هیلمن کوي، چې د سلواغې پر لومړۍ نېټه به نوی پارلمان پرانیزي، تېرې ټاکنې پر ځای او پایلې یې سهي دي.

په هر حال، د حکومت دا دوه مخي دریځ له خلکو او ولس څخه هم لاره ورکه کړې، ولس نه پوهېږي، چې د دوی له برخلیک سره څه لوبې روانې دي؟ ولس نه پوهېږي، چې په چا پسې اقتدا وکړي او د چا خبرې ته لبیک ووایي. داسې ښکاري، چې حکومت په دې برخه کې ځان ته ځانګړي اهداف او موخې لري او په دغه راز لوبو سره غواړي، چې ټول اړخونه وغولوي او یوازې خپلې موخې ترلاسه کړي، کېدای شي په دې مرموزو موخو کې، د یو شمېر هغو وکیلانو نومونه چې ناکام شوي او په هغو ولایتونو پورې اړه لري، چې هلته د ناامنیو له وجې ټاکنې نه دي ترسره شوي، د نوې ولسي جرګې د بریالیو کاندیدانو په لېست کې د ننه کړي او له بلې خوا غواړي، چې د ځان غمه هم وخوري، ځکه هغه پارلمان چې د حکومت هر بد ته د هوسر نه ښوروي، په هېڅ صورت د حکومت په ګټه نه دی، نو په دې توګه حکومت هڅه کوي، چې دغه نزاکت او توازن ته هم رسېدنه وکړي، خو باید هېره نه کړو، چې دغو مرموزو لوبو او سیالیو بیه بیا هم افغان مظلوم ولس پوره کوي، هغه ولس چې د دغو ستړو او رهبرانو سیالیو او ناندریو د بهوزلي او دربدرۍ دغه سرحد ورساوه.

انتخابات؛ زادگاه جنبش اعتراض

قسمت اول

به قلم: م. نبی هیکل

اعتراض برضد نتایج انتخابات که جسته و گریخته توانسته یک ماه ادامه یابد ممکن است، به سرآغاز یک جنبش اعتراض ملی مبدل گردد؛ زیرا زمینه ها و انگیزه ها برای انکشاف جنبش اعتراض به یک جنبش ملی اعتراضی وجود دارد. دوعامل عمده و اساسی این اعتراض را تهدید به فروکشیدن می نماید: یکی محول شدن اعتراض به قضاوت در مورد موضوع مورد منازعه است و دیگری سانسور افراد به جای سانسور موضوع. و سیلهٔ اولی یکی از ابزار موثر جلوگیری اعتراض در کشور ما می باشد که به شکل کمیسیون های تحقیق و ارزیابی در فرونشاندن اعتراض و خشم معترضان نقش موثر بازی کرده است. این کمیسیون ها به صورت عموم از

سوی حکومت یا رییس حکومت و یا پارلمان و یا هم به صورت مشترک از سوی حکومت و پارلمان دایر گردیده اند. کمیسیون مشترک پارلمان و حکومت تحت نظر وزیر عدلیه در منازعهٔ پارلمان و حکومت بر سر قانون انتخابات، کمیسیون تحقیقات در چندین موارد تلفات ملکی مثال هایی از چنین کمیسیون هاست.

سانسور افراد به جای موضوع نیز، از ابزار معمول در سیاست است و وسیلهٔ سیاسی موثری می باشد که به صورت رسمی و غیررسمی یا علنی و پنهان می تواند به کاربرده شود. از آنجایی که جنبش اعتراض کنونی ۱) بیشتر اساس انگیزه های فردی / گروپی را دارد، و ۲) درملی ساختن این اعتراض کمتر کار صورت گرفته است، امکان سانسور قوت بیشتر می یابد. انتخابات ۱۳۸۹ به تجدید صف آرایی نیروها منجر شده است. بدون شک انتخابات ۱۳۸۹ به تکانهٔ سیاسی در جامعهٔ افغانی مبدل شده است.

برای مردم و برای جنبش اعتراض در گام نخست احترام به حقوق اساسی بشری آنان از سوی قانون شکنان مطرح است. در گام دوم تقلب و زورگویی در جامعهٔ افغانی به سوی نهادینه شدن می رود. انتخابات گذشته و رشد همپای تقلب، تخلف و زورگویی گواه بر قوت این خطر است. انتخابات تنها مسأله یی نیست که اعتراض به خاطر نتایج مهندسی شده، یا تقلب و تخلف و یا دلایل دیگر ضروری پنداشته شود. فساد در اداره نه تنها از چنین راهی وارد پارلمان می شود، بلکه چنین انتخابات به ایجاد پارلمانی منتج می گردد که فاقد شایستگی نماینده گی از مردم باشد. درک ضعیف و نادرست ذهنی از منافع ملی در کشوری که روشنفکران آن هنوز در سراسیمه گی تعریف منافع ملی قرار دارد، بدون شک به دفاع از منافع حزبی و گروپی منجر خواهد شد. جنبش اعتراض این دشواری را می زداید و تفاهم ملی را برحول و حوش مسایل ملی شکل می دهد. اعتراض روح دموکراسی را می سازد و دموکراسی بیروح مرده است.

صف آرایی نیروها:

کمسیون مستقل انتخابات و کمیسیون شکایات انتخاباتی بر سه مسأله تاکید دارند:

۱) شفافیت در پروسهٔ کار آنها،

۲) عدالت پسندی و قانون پذیری عملکرد آنها و

۳) صلاحیت استثنایی این کمیسیون ها بخصوص کمیسیون شکایات انتخاباتی.

نامزدان برنده نیز، از متحدان طبیعی آنها حساب می شوند، زیرا مخالفت با این سه ادعا به زیان آنهاست. ایتلاف تغییر و امید نیز، به احتمال غالب در این صف آرایی اخذ موقع کرده است.

این نیروها بر نهایی بودن نتایج انتخابات مجلس نماینده گان و مشروعیت انتخابات تاکید دارند و معتقد اند که هیچ

ص۳

جوانان و دیدن سریال ها

نجیبه احمدی محصل پوهنحی ژورنالیزم

از طریق شبکه های تلویزیونی سریال های گوناگون جهت تفریح و تنویر افکار مردم به نمایش گذاشته می شود.

طوری که بعضی سریال ها روی هدف های عالی، تربیتی، اخلاقی، انتباهی و آموزشی تهیه و به دیدگاه تمام جوانان و مردم قرار می گیرد. در پهلوی آن، یک قسمت از سریال های تجارتی نیز موجود است که صرف به منظور به دست آوردن پول و جلب توجه جوانان تنظیم گردیده و عموماً مملو از صحنه های نیمه سکس عروسی کردن، جدا بودن، دوباره یک جا شدن، جنگ و جدال و زدوخورد بوده که جزء انحراف مردم، کاری را نمی تواند انجام دهد. بر همه گان هویداست، در محیط ما نوجوانان یعنی کسانی که بین سنین (۲۰/۱۵) قرار دارند، تمایلات شان به دیدن سریال و فلم خیلی زیاد است.

خصوصاً از دیدن سریال های

تجارتی که جزء چند صحنه یی تفریحی و انحرافی چیز دیگری بیش نیست، خیلی لذت می برند؛ از همین جاست که تماشای چنین سریال ها از یک طرف ایشان

را به دیدن سریال و فلم عادت می دهد و از طرف دیگر، باعث خرابی شان می شود. تماشای سریال های تجارتی در روحیات نوجوانان ناخودآگاه و بی تجربه که تازه پا به اجتماع گذاشته و با آن آشنایی کامل ندارند، تاثیرات خیلی بدی نموده و باعث ضعف اخلاقی و انحراف شان می گردد. پسران و دختران به این سن و سال وقتی بعد از دیدن چنین سریال ها از اشخاصی که در سریال نقش داشته خوش شان آمده و آرزو می کنند که خود مانند آنها باشند. از همین جاست که خلاف شرایط موجود محیط زنده گی خود، به یک سلسله اعمال و تقلیدهای نادرست دست می زنند.

ضررهای جبران ناپذیری را که در آینده از تماشای چنین سریال ها دامنگیر نوجوانان ما می گردد، طور خلاصه می توان قرار زیر نوشت:

- همه می دانند که غریزهٔ تمایل به جنس مخالف در سرشت هر بشر موجود است؛ روی این اساس، وقتی چنین دختران و پسرانی که نظر به اقتضای سن تابع این گونه تمایلات اند، سریال ها و فلم های مبتذل را تماشا می نمایند؛ در اثر فقدان تجربه و کم سنی برای بدست آوردن آمال خام خود که نتیجهٔ تاثیرات منفی سریال هاست، در سن و سالی که باید برای تحصیل تعلیم و تربیه سعی به خرچ دهند، به فکر پیدا کردن عملی می شوند تا بتوانند، صحنه را که در فلم دیده اند، عملاً انجام دهند که در نتیجه از درس و تعلیم بازمانده و در آینده، افراد بیکاره و بی دانش بار آمده و بار دوش جامعه می شوند.

ص۳

جوانان و دیدن ...

- در اکثر سریال های تجارتی، صحنه های محبت کردن " دوستی کردن" فرار نمودن از خانه، دور از خانه و والدین عروسی کردن، قتل و قتال با کارد، تفنگ و تفنگچه زیادتر بوده که دیدن آن بر روحیات نوجوانان ما تاثیرات خیلی بدی نموده البته عواقب وخیم و بدی به دنبال دارد.

- دیدن صحنه های دزدی کردن در چنین سریال ها از قبیل دستبرد به مال خانه ها، موتر، خزاین، بانک ها، تجارتخانه ها وغیره امکان دارد، فکر زشت چون دزدی ها در مغز نوجوانان ما پرورش دهد.

- چون کارگردانان عموماً در صحنهٔ سریال ملبس با لباس های رنگارنگ اند موی و روی خود را مطابق ایجاب صحنه زیب و زینت می دهند، اینجاست که فکر مود و مود پرستی در سر نوجوانان ما زده، پسران را به گذاشتن موهای دراز و پوشیدن لباس های عجیب و غریب تشویق نموده و دختران را به پوشیدن لباس هایی که خلاف اسلام است، تشویق می نماید که تمام این اعمال خلاف دین ما، خلاف افغانیت ما و خلاف اقتصاد – عادات و رسوم مردم ما بوده و شایستهٔ یک مسلمان واقعی نیست.

از فامیل دختران و پسرانی که تازه پا به مرحلهٔ بلوغ گذاشته اند خواهش می شود، تا ایشان را از دیدن سریال های تجارتی و انحرافی منع نمایند.

جداً آنها را به خواندن کتاب، رفتن به مکتب و دیدن فلم و سریال های اصلاحی – اجتماعی و اخلاقی که دارای هدف های عالی باشد و برای مردم بخصوص جوانان پند و عبرت و تجربه می آموزد، تشویق نمایند.

اگر در افغانستان دولت ...

فسادهای میلیون دالری آن مثال خوبی از سرمایه داران اینجاست که چگونه هست و بود مردم را فدای خواهش های کثیف خود کرده، به فکر آبادانی دوبی و کشیدن پول های مردم به آن سوی خلیج اند.

سومین موقعیت اقتصادی افغانستان، آب های آن است که سالانه به ۸۰ میلیارد متر مکعب می رسد که افغانستان سالانه فقط ۳۰ میلیارد متر مکعب آن را به مصرف می رساند و ۵۰ میلیارد دیگرآن به سرزمین های همسایه می ریزد. در بازارهای جهانی قیمت هر مترمکعب آب حد اقل یک دالر است که به این صورت افغانستان سالانه ۵۰ میلیارد دالر را به هدر می دهد. در صورتی که در افغانستان یک دولت مردمی و با صلاحیت وجود می داشت و این آب خود را مهار می کرد، سالانه حداقل ۳۰ میلیارد دالر از این درک سود می برد. بازهم سوال اینجاست که اگر افغانستان صرف از این مدرک پول های خود را به دست آورد، بازهم جوانان آن به ایران وسایر کشورها فرار می کردند.

افغانستان در کنار این سه مدرک که می تواند، تریلیون ها دالر به دامنش بریزد، از ده ها مدرک دیگر نیز، می تواند عواید سرشاری به دست آورد که هرعاید، قادر به نابودی فقر در افغانستان بوده و به زودی کشور ما را به اوج علیین بنشاند.

ارمنستان مدت حضور نیروهای ...

نیروهای حافظ صلح خود در افغانستان را از ۴۰ تن فعلی تا ۴۵ تن افزایش می دهد، به ویژه، پنج مربی را به این کشور اعزام می کند که در فرماندهی منطقهٔ شمالی فعال خدمت خواهند کرد.

به گفتهٔ اوهانیان، تمام مصارف شامل آموزش و تدارک فنی مربیان ارمنستانی را مانند سایر نیروهای حافظ صلح، طرف آلمانی عهده دار می شود.

د پېچلتیا پر پله روانه جګړه ...

بلعکس په لوی لاس د سولې وژونکي او د پرمختګ ځپونکي دي، ځکه د دوی په هکله دا واقعیت څوک نه شي پټولای، چې ووایي، سوله ساتي پوځونه د سولې دښمنان او د سولې له منځه وړونکي دي او پر دې ټول ولس پوهیږي، چې دوی په تېرو څو کلونو کې څه وکړل او د افغانستان ولس ته یې څه راوړل، سوله او که جنګ؟

دا جګړه اوس دومره پېچلې شوې، چې هېڅوک دا باور نه لري، چې دا جګړه به ژر پای وموميي او افغان ولس به له دې لوی ناورینه راووځي. دا خو د دې جګړې په هکله د افغان ولس نظر دی، خو له بلې خوا لوېدیځ چارواکي او ډیپلوماټان او د دې جګړې لوېدیځ مخکښان او لوبغاړي هم د دې جګړې له ګټلو ناهیلي ښکاري، خو دا معلومه نه ده، چې د دوی ناهیلي پر کوم خاص هدف راچورلي او که واقعیت هم همداسې دی. بایده خو داوو، چې دا جګړه باید له یوه کاله بل ته او له بل نه بل ته کمزورې شوې او بلاخره پای ته رسېدلې وای، خو بلعکس له یوه کال نه بل او له بل نه بل ته اوږده شوې او پېچلې شوې هم ده او لا هم د پېچلتیا او ستخنیا مرحلې ته داخلېږي. په همدې ترڅ او همدې حال کې ایساف ځواکونو خبرداری ورکړی، چې تر روان کال به راتلونکی کال ډېر خونړی او له تاوتریخوالو ډک وي. دا خبره څو ورځې مخکې د ایساف ځواکونو ویاند جوزیف بلاټز په کابل کې خبریالانو ته وکړه، ده وویل: ((دا ایساف له نظره په افغانستان کې د جنګ د پای ته رسېدو موسم وجود نه لري، مور به پر وسلوالو مخالفینو خپلو فشارونو ته دوام ورکړو. مور به پر ۲۰۱۱ م کال د نویو تاوتریخوالو شاهدان یو او ډېرې وسلوالې جګړې به وشي، تراوسه کار نه دی پای ته رسېدلی.)) په همدې حال کې څو ورځې مخکې د جرمني دفاع وزیر هم کندوز ولایت ته د خپل سفر په ترڅ کې په یاد ولایت کې د خپلو سرتېرو د لیدنې پرمهال څرګنده کړه، چې را روان ژمی دوی سختې او اوږدې جګړې په مخ کې لري. له دې نه ښکاري، چې د افغانستان د جګړې پای ناڅرګند دی، که څه هم دوی وایي، ماموریت به یې تر ۲۰۱۴ کاله پورې ورو ورو پای ته رسېږي او افغان ځواکونو ته به د امنیت ساتلو چارې سپاري، خو دا ښایي هسې د کاغذ پر مخ خبرې وي او د خلکو او نړۍ د غولولو لپاره داسې هڅې په کار وړل شوې وي، ځکه حقیقتونه باید د واقعیتونو په رڼا کې وڅېړل شي او د واقعیتونو په رڼا کې د دې جګړې د پای په هکله حقیقتونه نه ترسترګو کېږي.

په داسې حال کې چې دوی باید د راتلونکي کال د سوکالۍ، سولې او نېکمرغۍ خبرداری ورکړی وای. خو دوی د سختو جګړو او اوږدو جګړو خبرداری ورکړی او دا د دې مانا لري، چې په افغانستان کې جګړه له یوه کاله بل ته او له بل نه بل ته د سختوالي، پېچلتیا او خونړیتوب لور ته قدم وهي او همداسې له یوه کال بل او بل ته سختېږي او اوږدېږي، نو که چېرې دا جګړه پر همدې پله روانه وي، نو دا جګړه به په دې هېواد کې بچیان وزېږي او په سیمه کې به یو لوی ناورین ریښې وغځوي، چې بیا به یې له منځه وړل یو ناشونی او له وسه تېر کار وي.

میوند

په افغانستان کې د ناټو پوځونو ...

سرتېرو وژل کېدو سره په افغانستان کې دروان زېږدي کال په اوږدو کې دوژل شویو بهرنیو سرتېریو شمېره ۶۹۹ تنو ته ورسېده، دا په داسې حال کې ده چې تېر کال په هېواد کې ۵۲۱ بهرنۍ سرتېري وژل شوي دي.

د اوباما د ستراتیژۍ پر وړاندې ...

دوسلوالو اسانه اوښتل را اوښتل دا لاس ته راوړنه په ډېره اسانۍ په اوبو لاهو کولی شي.

دامریکا د پلي سمندري ځواکونو یوقومندان ډګروال ډیویډ فورنیس چې د مارچ د ولسمشرۍ په تازه حال یې خبریالانو ته خبرې کولې وویل، له دې سیمې ډېرې پېچلې او ګڼې لارې پاکستان ته تللي چې وسلوال طالبان پرې تګ راتګ کوي. د ډګروال فورنیس په وینا طالبان پر دې لارو په وړو ډلو کې تګ راتګ کوي او د اکمالاتو او تګ راتګ لپاره د ملکیانو له لاریو او موټرو ګټه اخلي. نومورې خبریالانو ته وویل سرتیرو یې داسې برېښنایي وسایل نیولي چې په کورنو کې په جوړیدونکیو بمونو کې کارېږي او د پاکستان د تولیداتو نښې وربانديدي.

نومورې د اخرګندونې له هغې څو ساعته مخکې وکړې چې سپینې مانۍ په افغانستان کې د خپلې جنګي ستراتیژۍ د ارزیابۍ نتایج خپاره کړل. د اسوشیتید پریس خبري اژانس راپور وایي، د اوباما په هغه پلان کې چې غواړي د افغانستان په جنوب او ختیځ کې ګڼ میشتې سیمې خوندي کړي لویه ستونزه همدا د وسلوالو د پټېدو او اکمالولو په برخه کې د پاکستان رول ده. دامریکا د متحدو ایالتونو د ټولو ځواکونو لوی درستیز امیر البحر مایک مولین د پنجشنبې په ورځ په کندهار او هلمند کې هغو وړو امریکایي بیسونو ته ورغی چې د پاکستان پولې ته نژدې پراته دي. نومورې له ده سره ملګرو خبریالانو ته وویل داسې ښکې وینې چې د دوی ستراتیژي د امریکایي او افغان افسرانو او ولسي خلکو تر منځ د باور په زیاتېدو کې موثره ده او سیمه ییز حکومتي چارواکي ورسره بامسولیته او حسابي شوي دي. د نومورې په وینا په مجموعې توګه د پام وړ پرمختګ شوی دی. خو لا هم اوږده لاره په مخ کې ده. تر دې مخکې په پاکستان کې، مایک مولین په دې هېواد کې د وسلوالو د پټېدو، تنظیمېدو او مجهزېدو د ستونزې په اړه خبرې کړې وې. د افغانستان د جګړې د ستراتېژۍ په اړه د سپینې مانۍ د ارزیابۍ په پنځه مخیزه خلاصه کې د وسلوالو په تجهیز کې د پاکستان د رول په اړه نرمه یادونه شوې ده. ویل شوي، د وسلوالو د پټېدو د خوندي ځایونو له منځه وړل د پاکستان سره په سرحدي سیمو کې د همکاري د پرختیا او زیاتول غواړي. خو په دې کې د شمالي وزیرستان او بلوچستان چې تر ټولو ډېرې داندېښنې سیمې دي مشخصه یادونه نه ده شوې. د جګړې د ستراتیژۍ د ارزیابۍ په خلاصه کې ویل شوي دي چې پاکستان په تېر کال کې د وسلوالو د پټنځایونو د له منځه وړلو په برخه کې پر مختګ کړی او په دې برخه کې یې زیانونه هم ګاللي دي. خو پاکستاني چارواکو د ډېر تمرکز پر هغو وسلوالو ډلو کړی چې د ننه پاکستان کې یې ګوابنونه رامنځ ته کړي دي، دوی تر اوسه د امریکا هغه غوښتنه نه ده منلې چې په شمالي وزیرستان کې چې دی د وسلوالو پر ضد اقدام وکړي.

دازادي راډیو د راپور له مخې، د امریکا د ټولو ځواکونو د لوی درستیز مرستیال جنرال جیمز کارټ ورایټ دا اونۍ په وشینګټن کې وویل په سرحدي سیمو کې د وسلوالو طالبانو د تګ راتګ د مخنیوي لپاره د امریکا او پاکستان ګډې هڅې د پخوانیو اتلس میاشتو په مقایسه په وروستیو دوو میاشتو کې چټکې شوې دي. او له دې سره له کربنې څخه د وسلوالو طالبانو د اوښتو را اوښتو ورځ تر اکمه شوې ده.

خوایا دا هڅې پوره دي، کارټ ورایټ وویل چې نه، خو دا سولې د ټینګښت لپاره لاره هواروي او زه باور لرم چې ډېر زر به یې اغېزې وویني.

انتخابات؛ زادگاه ...

مرجعی صلاحیت تصمیم گیری در مورد انتخابات را بغیر از کمیسیون های مربوط ندارد.

آیا این ادعای کمیسیون اساس قانونی دارد؟

درصورت درستی و سلامت این ادعا، مردم برای اعادهٔ حقوق بشری نقض شدهٔ ایشان و برای تامین قانون به کجا باید مراجعه نمایند؟

در جانب مقابل آنانی قرار دارند که:

۱) انتخابات ۱۳۸۹ را دارای آن صفاتی نمی دانند که قانون اساسی برای انتخابات پذیرفته است، و

۲) انتخابات را مهندسی شده و پر از تقلب می دانند.

لوی سارنوالی کشور را نیز، از لحاظ موضعگیری در این صف می توان حساب کرد. این نیروها باطل شدن نتایج و حتا برگزاری مجدد انتخابات را مطالبه دارند. در حالی که در مصاف قانونی کمیسیون ها با لوی سارنوالی در برابر هم قرار گرفته اند، نامزدانی که برنده اعلام شده اند، به زودی وارد مبارزهٔ سیاسی خواهند شد، تا از مواضع خود دفاع نمایند.

ادعای دیگری نیز مبنی بر عدم رعایت ترکیب ملی وجود دارد که برخی به شمول رییس جمهوراز آن حمایت دارند. سه دلیلی را که کمیسیون مستقل انتخابات، کمیسیون شکایت انتخاباتی عنوان می نمایند، دعوای لوی سارنوالی مورد شک و تردید قرار می دهد؛ زیرا لوی سارنوالی از موجودیت شواهد و اسناد سخن می گوید. آنچه لازم به تذکر است این است که ادعای صلاحیت استثنایی کمیسیون شکایات انتخاباتی تنها در صورتی سلامت دارد که هیچ سوال و ادعایی بر کارکرد کمیسیون وجود نداشته باشد.

ادامه دارد

د افغانستان د سولې اصلي ...

تېره میاشت د ناټو او افغانستان چارواکو وملنه چې دوی ته د ملامنصور په نامه جعلي کس ورلېږل شوی و او هغه ته یې، چې څو ځلې یې ورسره خبرې وکړې، د تاند د راپور له مخې، افغان چارواکي شک لري چې نومورې (جعلي ملا منصور) آی ایس آی ورلېږلی و. نومورې په کوټه کې، چې د طالبانو مشران په کې اوسي، د بریتانیا استخباراتي اداره ته ورمعرفي شوی و، خو وروسته معلومه شوه چې هغه اصلي ملا منصور نه بلکې د کوټې یو عادي دوکاندار دی.

اگر در افغانستان دولت مردمی حاکم می بود؟

میر صادقی



موقعیتی که امروز افغانستان به دست آورده، در عمرش نداشته است. بعد از فروپاشی اتحاد شوروی و تشکیل ۱۴ کشور دیگر و هم مرز شدن افغانستان به عوض یک کشور با سه کشور در شمال به این موقعیت خارق العادهٔ دست یافت. امروز افغانستان است که به چهارراهی مهمی در آسیا مبدل شده که اگر صاحبی می داشت و می توانست، از این موقعیت ها به نفع مردم افغانستان استفاده کند، دیگر این همه بدبختی، فقر، استعمارزده گی، فرار و گدایی نصیب ساکنان آن نمی شد.

در شرایط کنونی افغانستان، از سه موقعیت بارز اقتصادی در سطح این منطقه برخوردار است که در صورتی از آنها بهره برداری واقعی و مردمی گردد، این امکانات به تناسب ۲۵ میلیون نفوس کشور، ارزش فوق العاده یی است و به زودی می تواند، بر فقر، بدبختی و تیره روزی ساکنان آن، چیره گردد.

موقعیت اول، معادن افغانستان است که آخرین ارزیابی سازمان فضایی امریکا (ناسا)، حداقل ارزش آن را به ۵۰۰ هزار میلیارد دالر یا ۵۰۰ تریلیون دالر نشان می دهد، در حالی که در این ارزیابی دو ولایت بدخشان و هلمند مدنظر گرفته نشده است. زبان معادن افغانستان فقط با تریلیون دالر صحبت می کند. معدن مس حاجی گک دو میلیارد تن آهن دارد که اگر بر هر تن آهن ۵۰۰ دالر قیمت بگذاریم، یک هزار میلیارد و یا یک تریلیون دالر می شود. در صورتی بودجهٔ افغانستان را سالانه ۱۰۰ میلیارد دالر بگیریم، این معدن برای صد سال، بودجهٔ افغانستان را تمویل کرده می تواند. برای افغانستان در سال ۱۰۰ میلیارد دالر بودجه آنقدر رقم درشتی است که افغانستان قدرت جذب و مصرف آن را ندارد. اینکه در شرایط کنونی این معدن چگونه در اختیار خارجی ها قرار خواهد گرفت و به چپاول و یغما کشانده خواهند شد، برای همه روشن است. معدن لیتیوم افغانستان بازهم یک تریلیون دالر ارزش دارد، معدن یورانیم افغانستان و ۱۴۰۰ نوع منرال دیگری که در سینهٔ افغانستان دفن شده نشان می دهد که در افغانستان چه ثروتی نهفته است که هر معدن آن بودجهٔ ۱۰۰ میلیارد دالری صد ساله یی افغانستان را ساخته می تواند. با این همه ثروتی که در شکم کشور ما مدفون است، بازهم افغانستان فقیرترین کشور دنیا محسوب میشود.

افغانستان همین حالا معدن مس عینک خود را فروخته، ولی معلوم نیست که پول آن چه وقت به دست مردم خواهد رسید و آیا با فسادی که بر دولت حاکم است، کسی باور دارد که یک دالر آن به دامن مردم ریخته شود؟ آیا این پول ها روانهٔ دوبی نخواهد شد؟ و با این پول ها قصرها در آن سوی خلیج اعمار نخواهد گشت؟ هیچکسی نمی تواند، باور کند که این همه پول، کوچکترین کاهشی در میزان فقر و گدایی مردم افغانستان بیاورد. در حالی که در جریان فروش این معدن، تبلیغات بسیاری شد که چقدر مردم به زنده گی بهتر خواهند رسید و به چه پیمانه بیکاران افغانستان صاحب کار خواهند شد!!!

دومین موقعیت اقتصادی افغانستان، چهار راهی بودن آن است. حال افغانستان ۵۰ میلیون ساکنان آسیای میانه را به دریای هند وصل می سازد. ایران و پاکستان جبراً باید از راه افغانستان عبور کنند. این افغانستان است که در شرایط کنونی تجارت چهارگوشه یی آسیا را به هم وصل می سازد. این تجارت بدون پرداخت پول ممکن نیست.

همین حالا ۴۰۰۰ کانتینرکالای تاجران افغانی در بنادر پاکستان بند مانده و از این همه کانتینر ماهانه بیش از ۵۰ میلیون دالر به بنادر پاکستان «جریمه» پرداخت می شود، در حالی که روزانه صدها موتر کالای تاجران پاکستانی را از طریق بنادر افغانستان به آسیای میانه انتقال می دهند و رضا گیلانی در نظر دارد که تجارت پاکستان با افغانستان را در سال، به ۱۵ میلیارد دالر برساند. در صورتی که با این احتیاج پاکستان، دولت افغانستان می توانست، برخورد واقعی و متقابل با دولت پاکستان داشته باشد، پاکستانی ها نمی توانستند، این همه کالای تاجران افغان را بند بسازند و این همه جریمه بگیرند.

افغانستان می تواند، بخشی از پول بنادر ایرانی و پاکستانی را به نفع مردم افغانستان جذب کند.

لولهٔ گاز ترکمنستان از افغانستان، اولین استفادهٔ مشهود از چهار راهی افغانستان است که سالانه ۴۰۰ میلیون دالر به جیب افغانستان می ریزاند، اما بازهم سوال اینجاست که وقتی میلیاردها دالر در این سال ها در جیب ۷۶۰۰ تن فرو رفت، این ۳۵۰ میلیون دالر، جیب یکی از این فاسدان را پر کرده می تواند؟ و به این خاطر توده های مردم افغانستان نباید دست و پای شان را خینه کنند که از ۴۰۰ میلیون دالر یک میلیون نصیب آنها شد، بازهم شکر خدای خود را بکشند. تجربهٔ کابل بانک و

ص ۳

کنوانسیون رفع کلیه تبعیضات علیه زنان

ماده ششم: دول عضو کلیه اقدامات مقتضی ازجمله وضع قوانین رابه منظور جلوگیری از سوء استفاده اززنان و استثمار آنان بعمل خواهند آورد.

این پیام از طرف کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان تقدیم گردید

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۳۱۶۰۴۵۰ - ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

ارادهٔ ورځپاڼه یوازې د سر لیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه یې مسولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک:
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: خادم احمد
موبایل: ۰۷۰۰ ۵۹۶۲۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون: استاد مرتضی فرحتیار
موبایل: ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل: ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین: انجینیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس: دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema,
first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com